شتمنۍ
SHTAMANAI

قراني ایت:


ژباړه: په هغه څه کي چي الله جل جلاله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنیوي برخه دي هم مه هېروه او همغسي (له نورو سره) ښېګڼه کوه چي الله له تا سره ښېګڼه کړې او په مځکي کي فساد مه لټوه، یقیناً چي الله مفسدین نه خوښوي. (سورت القصص: آیت، ۷۷)

سه شنبه | ۱۲ جمادی الاول ۱۴۴۴ / ۱۵ قوس ۱۴۰۱ | ۶ دسامبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۳۳ | ۴ صفحه



# د منځنۍ اسیا له لاري اروپا ته د افغانستان صادرات پیل سول

د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته په لومړي ځل د منځنۍ اسیا له لاري اروپایي هیوادونو ته د افغانستان د صادراتي توکو لیږد پیل سو. په دې اړه په جوړو سو مراسمو کي د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال مولوي قدرت الله جلال، د کابل ګمرک رئیس مولوي ثناءالله نوید، د سوداګرۍ او پانګوني خوني مرستیال خان جان الکوزي، یو شمېر سوداګرو او د رسنیو استازو ګډون کړی وو. په پیل کي د کابل ګمرک رئیس ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل:» د خوښۍ ځای دی چي د افغانستان اسلامی امارت له واکمنېدو وروسته د افغانستان د صادراتي توکو لومړنۍ محموله اروپایي هیوادونو ته صادرېږي.» نوموړي زیاته کړه چي په دې محموله کي د شاوخوا ۲ میلیونه ډالرو په ارزښت ۱۲۰ ټنه وچه میوه او زعفران نن د کابل له ګمرک څخه حرکت کوي او د منځنۍ اسیا له لاري به جرمني، هالنډ، بلژیم، اتریش او داسي نورو اروپایي هیوادونو ته ورسیږي. د سوداګرۍ او پانګونکي خوني مرستیال په خپلو خبرو کي له سوداګرو څخه د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ له هراړخیز ملاتړ څخه مننه وکړه او اروپایي هیوادونو ته یې د افغانستان د وچو میوو او زعفرانو صادرول ستر ګام وباله. د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال د یادو صادراتو پر ارزښت خبري وکړې او دا کار ئې سوداګرۍ ته د ودې لپاره مهم ګام یاد کړ. د یادوني وړ ده چي یادي محمولې نن د کابل ګمرک څخه حرکت وکړ، چي د یوې میاشتي په موده کي به د منځنۍ اسیا له لاري اروپا ته ورسیږي.




# دولتي شرکتونه به معیاري وارزول سي



د مالیې وزارت دولتي شرکتونو عمومي ریاست له لوري، د ټولو دولتي شرکتونو عمومي ارزونه د متوازن کارت له مخي په سټنډرډ او معیاري ډول پیل سوه. دغه ارزونه چي پر نړیوال معیار او سټنډرډ برابرو اصولو تر سره کېږي، د متوازن کارټ (The Balance Score Card) په نامه سره یادېږي، چي مشري ئې د دولتي شرکتو د ریاست او تطبیق ئې د رهبرۍ د مدیره هئیت د غړو لخوا تر سره کیږي. په دې ارزونه کي د هر شرکت مالي، سوداګریزه، اداري، د ودي او ارتقاء برخي شاملي دي، چي وکتل سي کارکوونکي تر کومه بریده د ظرفیت لوړوني په بهیر کې شامل دي. لومړنی شرکت چي تر دې مهاله ارزیابي سوی د ارزاقو شرکت دئ، چي ارزیابۍ ئې دوې ورځې مسلسل دوام وکړ. د یادوني وړده، چي د دې ارزوني په پایله کي به د ټولو دولتي شرکتو ارزیابي وسي،

# د بودیجې ترتیبولو د لارښود ورکشاپ تر سره سو




مالیې وزارت د وزارتونو او ټولو دولتي ادارو سره په همغږۍ د ۱۴۰۲ مالي کال د بودیجې جوړولو چارې پیل کړي. په همدې لړ کي د وزارتونو بودیجوي واحدونو او دولتي ادارو استازو ته د بودیجې ترتیبولو د لارښود دوه ورځنی ورکشاپ د مالیې وزارت د بودیجي لوی ریاست د پلان او پالیسي امریت له لوري ترسره سو. په دغه ورکشاپ کي ټولو دولتي ادارو ته د بودیجې د ترتیبولو اړیني لارښووني وسوې او ټینګار وسو، چي وزارتونه او دولتي اداري دي خپلي اړیني بودیجوي اړتیاوي مطرح کړي؛ تر څو د بې ځایه لګښوتونو مخنیوی وسي او هم ملي بودیجه له کسر سره مخ نه سي.

## سرمقاله



### صادراتي هیواد او مالي خپلواکي

په دې پوهېږو، چي اقتصادي، سیاسي او جغرافیایي وضعیت ته په کتو افغنستان یو وارداتي هیواد دئ او د صادراتو په برخه کي تر اوسه پوري خپلواکۍ ته نه دی رسېدلی. که څه هم دا هیواد د سترو زراعتی او کاني منابعو برخمن هیواد دئ، ولي د څو کلونو جګړو او د پردیو راوړو ناخوالو له کبله تل هڅه سوي، چي افغانستان په پردیو او ګاونډیو هیوادونو تکیه وکړي. همدا شان د کانونو د استخراج په برخه کي د نه امکاناتو او ماشینرۍ نه شتون او ترڅنګ یې ټیټ اقتصادي وضعیت، د امنیت نه شتون، پانګوالو لپاره د پانګوني زمینې نه برابرول او د کرني په برخه کي د څو کلني پر له پسې وچکالۍ او د تېرو نظامونو د نه پاملرني له کبله د کرني په برخه کي ګڼې ستونزې او بې کفایتي د دې هیواد د شاته پاتي کېدو او وارداتي هیواد بدلېدو سبب ګرځېدلې. وچه او تازه مېوه د ګران افغانستان د کرني په برخه کي عظیمه او بې مثاله برخه ده، چي د کیفیت له مخي یې په ځلونو د نړۍ په کچه غوره مقام ترلاسه کړی او د افغانستان مېوې د نړیوالو د ځانګړي پاملرني وړ ګرځېدلې. که درته یاد وي د تېري اونۍ په اوږدو کي په هندوستان کي د وچو مېوو نړیوال نندارتون کي د افغانستان وچي مېوې د نړیوالو متخصصینو له خېړني او ارزوني وروسته د سرو زرو مډال وګاټه او دغه ویاړ یو ځل بیا د افغانستان په برخه سو. ولي له دې ټولو ناخوالو او ننګونو سره – سره اسلامي امارت د هیواد وچو او تازه مېوو ته په نړیواله او سیمه ایزه کچه د بازار پیدا کولو په تکل کي دئ او غواړي چي دا هیواد په یوه صادراتي هیواد بدل سي. په دې برخه کي یې موږ بېلګې له هندوستان او چین سره د هوایي دهلیزونو بیا پراخول دي، د سیمي او ګاونډیو هیوادونو سره د ریل پټلۍ کرښي غځول دي. له دې ټولو سره بیا د ا.ا.ا له واکمنېدو وروسته په لومړي ځل د منځنۍ اسیا له لاري اروپایي هیوادونو ته د افغانستان د صادراتي توکو لیږد پیل سو. په دې صادراتو کي د افغانستان د وچو مېوو بار کانټینرونه چي د شاوخوا ۲ میلیونه ډالرو په ارزښت ۱۲۰ ټنه وچه میوه او زعفران پکښي شامل وو، د کابل له ګمرک څخه د منځنۍ اسیا له لاري جرمني، هالنډ، بلژیم، اتریش او داسي نورو اروپایي هیوادونو ته صادر سول. د اسلامي امارت هوډ او غښتلې اراده، د هیواد ځان بسیا کول او له پردیو د خپلي تکیې را کمول دي. د افغانستان صادراتي کېدل به دغه هیواد د اقتصادي سوکالۍ او مالي ځان بسیایني پر لوري، یو ګام نور هم وړاندي کړي، که موږ صادراتي خپلواکي ترلاسه کړو، بیا به مو د نورو له هر راز مرستو لاسونه را لنډ سي او په مالي برخه کي به یو خپلواک او ودان افغانستان ولرو.


**درنښت**

**اداره**



تحویلی ۱۲۵ امبولانس به وزارت صحت عامه

۴



د کورنۍ پلټنې لوی رئیس لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو ته سفر وکړ

۴



Returned properties of the Stat-Owned Corporations

۴



په یوه اداره کې د مسلکي شخص ګمارنه

۴




تفتیش ویژه

۴

شتمنی SHTAMANAI


د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

**د ماليې وزارت اړوند د هوټلونو دولتي شرکت لاسته راوړني**

د هوټلونو دولتي شرکت يو انتفاعي دولتي شرکت دي، چې له نيمې پيړۍ راهيسې کورنيو او بهرنيو ميلمنو ته د هوټل دارۍ په برخه کې خدمات وړاندې کوي، دغه شرکت په تېر يوه کال کې ګڼې لاسته راوړنې لري.

**مالي او اداري برخه**

- د مزار هوټل، سپوږمۍ کافي، باغ بالا رستورانټ او هلمند بُست هوټل د مشارکت او پانګونې قراردادونه لاسليک کول؛
- د ۱۳۹۹ل مالي کال بيلانس د (IFRS) په سيستم ترتيب او تائيد ول؛
- د شرکت لپاره د ويب سايټ مالي عصري سيستم (کويک بوکس) قرارداد لاسليک کول؛
- د ظرفيت لوړونې کړنلاره ترتيبول.

**عملياتي برخه**

- سپوږمۍ رستورانټ او ستالف هوټل په عصري وسايلو سمبال او اساسي فعاليتونه پکښې پيلول؛
- د هوټلونو خدماتو د څارنې او ارزونې کړنلاره ترتيبول؛
- د نورو ادارو له تصرفه د (هلمند بُست هوټل، باغ بالا رستورانټ، کندهار هوټل او ستالف هوټل) جايدادونه راګرځول

**سوداګريزه برخه**

- د ترتيب سوي پلان پر بنسټ مزار هوټل ته د (۹۲۰) ميليونو افغانيو په ارزښت د خصوصي پانګې جذب، چې د پروژې ودانيزې چارې يې عملاً رواني دي؛
- د باغ بالا رستورانټ او باغ بالا فارم کې د ماليې وزارت د املاکو رياست سره په مشترک ډول د (۲٦٦) ميليونه افغانيو په ارزښت د خصوصي پانګې جذب؛
- د پنځه کلن (ستراتيژيک پلان) ترتيبول؛

**حقوقي برخه**


۱- د ماليې وزارت تر ملکيت او دولتي شرکتونو د قانون تر چتر لاندې د هوټلونو دولتي شرکت د پاتې کېدلو د دفاعيې ترتيب؛
۲- د سپوږمۍ کافي د قرارداد د فسخې لپاره د دفاعيې چمتو کول؛

**يادونه**

د هوټلونو دولتي شرکت په پام کې لري، چې په راتلونکو کلونو کې خپل ټول جايدادونه فعاله او يو شمېر هيوادوالو ته د کار زمينه برابره کړي.

www.mof.gov.af afghanistanmof

## د کورنۍ پلټنې لوی رئيس لوګر، پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو ته سفر وکړ




د ماليې وزارت کورنۍ پلټنې لوی رئيس انجنير عبداللطيف خالد په مشرۍ يو پلاوي د څارو د ارزونې په موخه د لوګر، پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو له مستوفيتونو، ګمرکونو او اړوندو کاري دفترونو څخه ليدنه وکړه.

د دغه سفر په لړ کې د يادو ولايتونو مستوفيانو د کورنۍ پلټنې لوی رياست پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ په څارو کې د روڼتيا او اصلاح رامنځته کېدو په موخه د دوی هڅې وستايلې.

وروسته بيا د کورنۍ پلټنې لوی رئيس، د پلټنې پر ارزښت او ځرنګوالي او د پلټنې د سپارښتنو پر عملي کولو خبرې وکړې او د شفافو عوايدو په راټولېدو يې ټينګار وکړ. هغه زياته کړه، چې د پلټنې د اصلاحي سپارښتنو په تطبيق سره اداره مثبت لور ته ګام اخلي او د نه تطبيق په صورت کې اداره له ګڼو ستونزو او ناخوالو سره مخ کيږي.

د يادونې وړ ده، چې ښاغلي خالد د يادو ولايتونو له ټولو اړوندو کارکوونکو سره وليدل، د هغوی ستونزې او غوښتنې يې واورېدې او د ماليې وزارت له لوري يې د حل ژمنه ورسره وکړه.

## تحویلی ۱۲۵ امبولانس به وزارت صحت عامه



۱۲۵ امبولانس خریداری شده از کشور ازبکستان توسط ریاست تدارکات ملی به وزارت صحت عامه تحویل داده شد.

این امبولانس ها در نتیجه تلاش های ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه و بر اساس تاریخ (شماره ۱۰۸۴، ۱۴۰۱/۳/۲۳ و شماره ۱۴۰۸، ۱۴۰۱/۴/۱۵) بـه منظور مصونیت بیشتر از گمرک حیرتان بـه گمرک کابل انتقال داده شد و علاوه بر اجراء معافیت، طی مراحل گمرکی آن نیز با شفافیت و سرعت کامل انجام و آماده تحویل گردید کـه امروز طی مراسمی در اکادمی ملی عواید و گمرکات رسماً بـه وزارت صحت عامه تسلیم داده شد

## په اداره کې د مسلکي شخص ګمارنه

احمد ضیاء نیازی
د وړتیا لوړوني او روزني امر

د يوه مسلکي شخص د ګمارلو لپاره ځينې ځانګړنې وجود لري، چې د هغوی درک او فهم د ګمارنې په روند کې اړين او د ادارې په بريا کې مرسته کوي د منظموالي سره - سره د وخت پيژندنه، تيمي کارکولو وړتيا، مثبت ليد او داسې نورې ځانګړنې هم شته چې دې ليکنه کې پرې رڼا اچول شوې ده او دا ځانګړنې د يوې ادارې مشرتابه سره د مسلکي اشخاصو په ګمارنه او روزنه کې مرسته کولی شي يو بريالی مدير يواځې د کارمند په کاري وړتياوو باندې بسنه نه کوي بلکه د هغه رفتاري او شخصيتي ځانګړنې هم پام کې نيسي ځکه چې د يوې ادارې په مؤثريت کې مهم رول لري.

د يو ښه کارمند ۲۵ ځانګړنې:

**۱ – د ټيم سره د کارکولو وړتيا درلودل**

کيدای شي ځينو ته دا يوه معمولي ځانګړنه وي خو د مديريت او ادارې اصولو په اساس يو بريالی کارمند بايد د دې وړتيا ولري چې په ټيمي بڼه کار وکړي تر څو په اداره کې ارتباط نيونه، همغږي او خپل منځي مرسته عامه شي تر څو اداره لا پياوړې او موثره شي.

**۲ – ښې اړيکې برقرارول**

ښې اړيکې درلودل يا برقرارول د يوه ټيمي کار مهمه او اساسي بڼه ده خو دا يوازې د نورو سره د ښو اړيکو درلودلو پورې محدوده نده، بلکه دې کې د خبرو کولو طرز او اصول له خپل ځان نه لوړ او ټيټ مقاماتو سره هم شامليږي.

**۳ – په ناستو او غونډو کې د خبرې کولو وړتيا**

دا څرګنده ده چې يوه اداره يوازې داسې کارمند نه غواړي چې اړيکې و ساتي بلکه هغه بايد دا توانايي ولري، چې جلساتو او غونډو کې بې له کوم ډار او ترس څخه خپلې او ادارې موخې وړاندې کړي او د دې وړتيا هم ولري چې د يوې پوښتنې په پوښتلو سره يا هم د خپل همکار له نظره سره پر موافقت او حمايت خپل فعاليت څرګند کړي.



**٤ – د يو او بل سره همکاري**

تحقيقاتو څرګنده کړې چې ٦٠٪ مديران دا ډول کارمندانو په لټه کې دي چې تيمي بڼه د کار کولو وړتيا ولري دا ځکه چې هيڅ يوه اداره په انفرادي ډول اهداف نشي ترلاسه کولی ترڅو د خپل ټيم حمايت او هماهنګي ورسره نه وي نو لهذا هره اداره د يو داسې کارمند په لټه کې وي چې د همکارۍ سابقه، ظرفيت لوړوني او انتقاد پذيرۍ ځانګړنې ولري.

**٥ – د بريالیتوب لپاره سمبالېدل**

دا اړينه نه ده چې رسمي او يا هم غير رسمي لباس ولري ولې که چيرې کارمند صورت او سيرت د شرعي اصولو سره برابر وي دا په حقيقت کې د دې ښکارندوی دی چې هغه خپل کار او ادارې سره خوښه مينه او ليوالتيا لري او خپل کاري محيط او همکارانو ته په پوره معنی درناوی لري چې دا د يو ذکي او با مسوليته کارمند ځانګړنه ده.

**٦ – مسئوليت پذيري**

ولې بايد يو کارمند دا ځانګړنه ولري؟ ځکه چې يوه اداره خپلو اهدافو ته د رسيدو په موخه د ستونزو او موانعو سره مخ کيږي نو يو با مسوليته کارمند د ټيم د روحيې د لوړولو لپاره خپلې اوږې نه سپکوي بلکه د مشکل د حل لپاره په تمامه معنی هڅه او کوشش کوي.

**۷ – د رهبرۍ د فرصت غوښتونکی**

انساني فطرت د دې تقاضا کوي چې ژوند له پرمختګونو څخه خالي نه دی او نه هم څوک د تل لپاره پرځای کښيناستل او منتظر پاتې کيږي نو هره اداره داسې يو کارمند غواړي چې د کاري مشاورت تر څنګ راتلونکې کې د يو ښه مدير او رهبرۍ وړتيا ولري.

**۸ – وخت شناس**

وخت پيژنه يواځې دا معنی نه ورکوي چې کارمند دې کاري ساعت مراعت کړي بلکه يو موفق کارمند د خپل کار په وړاندې جديت او اهميت ښايي يعنې يو ښه کارمند هغه څوک دی، چې علاوه پردې چې خپل کار ته په خپل وخت حاضريږي او همدارنګه د ادارې اړوند نورو غونډو او جلساتو کې هم ګډون ولري.

**۹ – مديرانه فکر درلودل**

د يو بريالي کارمند له ځانګړنو څخه يوه دا هم ده چې هميشه بل کارمند ته منتظر نه وي چې تر څو ورته لارښوونه او يا هم کار په ګوته شي بلکه د دې توانايي ولري چې د خپل ټيم رهنمايي او په اکثره مواردو کې مستقيماً دخالت ولري يعنې يو موفقه کارمند بايد د يو مدير په څير فکر ولري او هميشه د ادارې او ټولو اعضاوو د پرمختګ هيله او کوشش وکړي.

**۱۰ – د پايلې په اړه فکر کول**

دا ځانګړنه د هغو فعاليتونو په اړه نده چې سرته رسيدلي بلکه دا هغه پايلې دي چې په آخرکي مو لاس ته راوړي. مثلا: د دې پرځای چې ووايي غونډه ښه مخ ته ولاړه بايد وويل شي چې د غونډې پايله څه وه او څه مو ترې ترلاسه کړل

نوربيا...

شتمنی
SHTAMANAI

# تفتیش ویژه

نویسنده: محمد احسان نکته دان
ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه

**ادامه**

## چه کسی می تواند تفتیش ویژه را انجام دهد؟

شخصی می تواند این نوع تفتیش را انجام دهد که دارای دانش وعلم حسابداری بوده و تجارب و مهارت های بسیار بالایی در زمینه تحلیل اطلاعات و محاسبات مالی دارد. در واقع این شخص؛ همچون دیگر مفتشان مراحل آموزشی علمی حسابداری را در مراکز علمی معتبر پشت سر گذاشته واکنون استحقاق انجام امور تفتیش نظیر تفتیش ویژه را دارد. دیگر پیش شرط لازم برای انجام امور تفتیش و قرار گرفتن در زمره مفتشان، داشتن تسلط بر کامپیوتر و نرم افزار های مورد نیاز برای انجام امور مرتبط است. زیرا همانطور که مستحضر هستید، طی چند سال اخیر، اکثر امور مالی به صورت سیستمی انجام می پذیرد که به صورت ویژه می توان سیستم های مالیاتی؛ چون سیستم سکتاس، سیستم اسیکودا و سایر سیستم ها را نام برد. همچنین درگیری سیستم های مالی و حسابداری به منظور کاهش اشتباهات بشری، از سایر موارد است. به این ترتیب یک مفتش ویژه موفق و کارآمد باید در کنار فراگیری اصول و فنون حسابداری و تفتیش، با کار سیستم آشنا بوده و بر نرم افزار های حسابداری موجود در کشور نیز تسلط کامل داشته باشد. دیگر ویژگی یک مفتش ویژه ایده آل، داشتن مهارت های نوشتاری، کلامی، ارتباطی و اصول وضوابط اخلاقی است. به نحوی که بتواند در کنار انجام وظایف خود به بهترین شکل، بر حسب مقتضای وظایف خود، قدرت بر قرار نمودن ارتباط با دیگران را نیز داشته باشد. در همچو صورت شرایط بهتری را برای دستیابی به اسناد مورد نیاز جهت انجام امور تفتیش به دست خواهد آورد. به طور کلی مفتش ویژه شخصی است که بتواند به راحتی از عهده اموری؛ چون بررسی حسابهای نهاد، ارزیابی سیسم های گزارش مالی نهاد، جمع آوری و تحلیل آمار و ارقام، شناسایی ویژگی های کسب و کار و سایر موارد مشابه برآید. این یک امر مبرم است که همچو تفتیش باید با در نظر داشت ماهیت موضوع توسط مفتشان واجد شرایط انجام پذیرد. همچو مفتش باید در زمینه معلومات وافر داشته، بتواند از اصل موضوع معلومات مستند را جمع آوری و بنابر آن گزارش خویش را ارایه نموده بتواند.

## روند تفتیش ویژه

روند کار در تفتیش ویژه به نحوی است که مفتش ویژه به واسطه مستندات مالی و غیر مالی از طریق بررسی و بازرسی و کمی سازی منازعات حقوقی، به حل و فصل اختلافات مالی و تعارض ها اقدام می کند. در واقع زمانی که بین یک شخص حکمی با دیگر اشخاص اعم از حقیقی و حکمی اختلافات مالی پیش می آید؛ رسیدگی به آن در دامنه تفتیش ویژه قرار دارد. به همین دلیل است که از تفتیش ویژه به عنوان تفتیش مدیریتی نیز یاد می شود. لذا هنگامی که اختلافات مالی بین




اشخاص و اداره حکومتی به وجود می آید یا کار کرد اداره مورد شک و تردید هایی قرار می گیرد، جهت حل و فصل اختلافات موجود، رفع شکوک و تردیدها لازم می افتد تا از طریق بررسی و بازرسی به حل همچو اختلافات و یا رفع شکوک و تردیدها اقدامات صورت گیرد. در واقع زمان هایی که بین یک شخص حکمی و حقیقی اختلافات مالی پیش می آید، رسیدگی به آن در دامنه تفتیش ویژه قرار دارد؛ خواه این تفتیش ویژه از طریق تفتیش داخلی صورت گیرد یا از طریق نهاد ثالث و بیطرف. مفتشان ویژه، صلاحیت ها، مسؤولیت ها و گزارشات مفتشان ویژه از طرف مقامات ذیصلاح؛ چون مقام وزارتها، رؤسای ریاست های مستقل، رئیس تفتیش داخلی مربوطه، محکمه و سایر مقامات ذیصلاح توظیف می گردند. همچو مفتشان حق بررسی وکسب معلومات را از نهاد مربوطه داشته و نهاد متذکره مکلفیت دارد تا جهت بر آورده ساختن اهداف تفتیش با مفتشان همکاری همه جانبه نموده به خواسته ها و مطلوبه هیأت تفتیش ویژه پاسخ کافی و بهنگام ارایه نموده سهولت های لازم را فراهم سازد.

هر گاه از مفتشان حمایت لازم صورت نمی گیرد و یا سهولت های لازم جهت نیل به اهداف تفتیش فراهم نمی شود، مفتشان حق دارند موضوع را به مقام مربوطه و یا محکمه در میان گذاشته و از همان طریق به وظایف خویش ادامه داده بررسی خویش را تکمیل نمایند. مفتشان ویژه خود نیز تابع همان مقرراتی است که برای مفتشان پلانی پیش بینی شده است. آنها مکلف اند تا معاملات تحت بررسی ویژه را بی طرفانه، محرمانه، و صادقانه بدون اینکه تحت تأثیر کسی روند، و یا از هدایات مشخص کسی پیروی کنند، بررسی نمایند. تفتیش با ارایه یک گزارش به پایان می رسد. در این گزارش یافته های تفیش ویژه باید به مقامات ذیصلاح در اسرع وقت به زبان ساده و بسیط در میان گذاشته شود که در صورت لزوم اداره تفتیش موضوع را به مرجع عدلی و قضایی ارسال خواهد نمود. گزارش باید مشمول معلومات گسترده در ارتباط با موضوعات مطرح شده باشد. این معلومات دست کم مشمول موارد آتی باشد: اتهام ویژه( تخطی از قانون، ضوابط و پالیسی ها) و نهاد ها و طرف های دخیل در قضیه خلاف قوانین و هر نوع شواهد و خسارات مالی وارده و اینکه آیا قضبه به سایر نهاد نظارتی و یا تنفیذی ارسال شده است و اگر ارسال شده است به کدام اداره؟ و هر نوع اسناد حمایوی که قابل دسترس است.

## واحد تفتیش بررسی تقلب و سیستم های ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه

این واحد تفتیش که در تشکیل ریاست عمومی تفتیش داخلی جا دارد، دارای (۲۹) کارمند بوده اکثر ایشان از زمان های زیادی به این طرف در این بخش ایفای وظیفه می نمایند و بیشتر ایشان در زمینه بررسی موضوعات خاص به ویژه موضوعات تقلب و سایر جرایم مالی و اداری، آموزش های ارزنده در داخل و خارج کشور دیده اند. گرچه متأسفانه برخی ایشان به نسبت برخی ملحوظات در خلال سال های گذشته وظیفه را ترک و در جاهای دیگری اشغال وظیفه نموده اند، ولی با وجود آن افراد مخلص و کار فهم دیگری به آن پیوسته است که می توانند از عهده این مأموریت بر ایند. این ریاست افزون بر اجرای تفتیش پلانی سالانه به برخی قضایای مورد ادعا رسیدگی نموده قضایای متعدد مرتبط به اتهامات تقلب، ضایعات دارایی و سوء استفاده ها و غیره را مورد بررسی قرار داده گزارش خویش را به مقامات ذیربط غرض اجراءات بعدی ارایه میدارند که حتی بسیاری موضوعات فساد در گذشته به مقام های عدلی و قضایی راجع شده است. هر گاه این مفتشان در اثر بررسی های حرفه ای خویش دریابند که ارتکاب موارد جرمی صورت گرفته است، موضوع را بعد از مستند سازی به ارگانهای عدلی و قضایی محول می سازند. ارگانهای عدلی و قضایی مکلفیت دارند، و حق دارند تا بررسی نمایند که نتایج تفتیش ویژه ماهیت واقعی داشته نه صوری. قابل ذکر است، در صورتی که موضع، وصف جرمی داشته باشد و به محکمه جهت فیصله نهایی ارسال شده باشد و محکمه دریابد که تفتیش ویژه ناتکمیل و ناقص است و مفتش ویژه به سوالات آنها پاسخ های واقعی و مستدل ارایه نکرده است، می تواند تفتیش ویژه را مجددا آغاز نماید و یا می تواند از اداره تفتیش بخواهد جهت پر نمودن خلاهای موجود، بررسی های بیشتری را انجام دهد. همچنان محکمه می تواند در صورتی که مفتش وظیفه خود را به صورت بیطرفانه انجام نداده باشد ویا موضوع را مستند نساخته باشد، تفتیش را مجددا توسط تیم دیگری بسر رساند و یا اعضای تیم را تعویض کند. همچنان مفتشان ویژه مکلف اند تا به تمام سوالات مورد نیاز محکمه پاسخ درست و مستند ارایه نموده طرف های دخیل در قضیه، ماهیت قضیه و خسارات وارده را مشخص سازند تا محکمه بتواند در روشنی گزارشات ایشان در ارتباط با معاملات مورد نزاع و مورد ادعا قضاوت سالم و منصفانه صادر نماید.

## خاتمه

در پایان شایان ذکر می دانم که تفتیش ویژه یک نیاز مبرم بوده نمی توان از آن چشم پوشی نمود. در این مورد بدون شرایط لازم؛ چه در عرصه توظیف کارمندان باتجربه و ماهر با در نظر داشت ماهیت موضوع، چه در عرصه همکاری نهاد مورد بررسی و نظارت بر فعالیت های مفتشان نمی توان به نتیجه مطلوب رسید. بنابران باید تمام شرایط را مساعد ساخته مطابق با ماهیت موضوع کارمندی را توظیف نمود که از موضوع معلومات کافی داشته و می تواند از عهده جمع آوری معلومات و تحلیل آن براید. همچنان قابل تذکر است که این نوع تفتیش به هیچ روی به قابل اعتماد بودن و یا نبودن مسؤولین ادارات ارتباط ندارد. همچنان اطمینان داده می شود که هر گز همچو تفتیش روی اهداف غیر معقول صورت نمی گیرد.

و من الله التوفیق.

# اعلانات داوطلبی

### به اعلان سپردن یکدربند سرای به مساحت ۳۲۵۲,۹ متر مربع

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۳۲۵۲,۹) متر مربع سرای واقع برج شهر آرا ناحیه ٤ ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تایخ ۷ قوس الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر، منزل چهارم تسلیم نموده، و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند

### به اعلان سپردن موازی (۷۷۷) متر مربع زمین موترشوئی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۷۷۷) متر مربع زمین موتر شوئی واقع ده کیپک سرای شمالی ناحیه ۱۷ ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۷ قوس الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر، منزل چهارم تسلیم نموده، و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند

### به اعلان سپردن (۱٦۱) مترمربع یک باب کفتریا

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۱٦۱) متر مربع ساحه یکباب گفتریا واقع داخل محوطه ریاست صحت عامه ولایت کندز را از طریق پروسه داوطلبی به کرایه میدهد. در صورتیکه اشخاص، موسسات و شرکتهای محترم واجد شرایط خواهش کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱٤) منزله سینمای پامیر شهر کابل سپرده سر از تاریخ ۷قوس الی (۲۱) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده مبلغ (۳۰۰۰) هزار افغانی پول حق الاشتراک بدون باز گشت را پرداخت نمایند.

### به اعلان سپردن منزل دوم سوپر مارکیت کوته سنگی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه منزل دوم سوپر مارکیت بزرگ کوته سنگی واقع ناحیه سوم ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۷ قوس الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر، منزل چهارم تسلیم نموده، و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، عبدالرحمن سجاد، ابراهیم گران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** afghanistanmof@
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره:** ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)












## Returned properties of the State Owned Corporations




The State-Owned Corporations are the major source revenue of the Ministry of Finance, and the Directorate General of State-Owned Corporations is in-charge of overseeing and managing all state-owned corporations. Following the takeover of the country by Islamic Emirate, the DG of State-Owned Corporation managed to extricate the lands related the following companies from usurpation.

1. (2716.30) acres of land from Spinzar Kunduz
2. (4.032) acres of land from Afghanistan oil and gas state-owned corporation
3. (34) acres of land from Arzaaq state-owned Corporation
4. (5) acres of land from Hotels state-owned Corporation
5. (0.5) acres of land from Mill-e-Bas state-owned Corporation
6. (51) acres of land from Kandahar cotton textile state-owned corporation
7. (2.88) acres of land from Balkh cotton seed and vegetable oil state-owned corporation
8. (10.5) acres of land from Central Freight (Kamaz) state-owned corporation
9. (9558.713) of land from state-owned Improved Seeds and Agricultural Services Corporation
10. (37.5) acres of land from Pol-e-Khomri State-Owned Textile Corporation
11. (505) acres of land from Northern Coal State-Owned Corporation
12. (6.5) acres of land from Pharmacy State-Owned Corporation
13. (0.06) acres of land from Aftanto State-Owned Corporation
14. (16.8) acres of land from Afsotar State-Owned Corporation
15. (0.75) acres of land from Ghouri Cement State-Owned Corporation
16. (0.651) acres of land from Housing Construction State-Owned Corporation
17.(46.42) acres of land from Banayee Construction State-Owned Corporation
18. (0.75) acres of land from Afghani Construction State-Owned Corporation
19. (1035) acres of land from Helmand Construction State-Owned Corporation
20. (1111) acres of land from Baghlan Sugar State-Owned Corporation

TheGeneralDirectorateofStateCorporation has regained the aforementioned lands from powerful individuals, usurping entities, and government agencies It is worth mentioning that based on the direction of the second paragraph of enactment No. 4 of the Cabinet of the Islamic Emirate of Afghanistan (46) cases of usurped properties of state-owned corporations have been sent to the obliged Commission for their reclaiming through the General Directorate finance and administration.

## Afghanistan export to Europe Initiated through Central Asia




Since the Islamic Emirate took over the Country, the first shipment of Afghan exports to Europe was sent. In this shipment, 120 tons of dried fruit and saffron worth around $2 million were shipped across Central Asia to Germany, Holland, Belgium, Austria, and other European countries. It is worth noting that the export of dried fruit and saffron from Afghanistan to European countries represents a significant step forward and a major

## Facilities Established in the Country)s Customs Departments for the Humanitarian Aid Custom Procedures

Afghanistan is currently in need of humanitarian aid and the Ministry of Finance has given priority to the customs procedures of the humanitarian aid provided by international humanitarian organizations. The international System of ASYCUDA has eased and accelerated the customs procedure of Humanitarian Aid. The General Directorate of Customs of the Ministry of Finance has granted a customs exemption to several spices, medical equipment, and food items that were brought to Afghanistan by foreign donors for 65.8 billion Afghanis in the first seven months of this year. It is worth mentioning that 52 million Afghanis revenue has been collected from the service fees of these goods.



**درر العلامة عبدالحکیم قاضي القضاة**

د امیر او مشر په اطاعت کې د مسلمانانو ترمنځ د اتفاق او یووالي رسۍ ټینگیږي او له صفونو څخه یې د اختلاف ټکی ورکیږي. همدارنگه د امیر په اطاعت کې د الله تعالی خوښي، د پیغمبرانو پیروي او د مؤمن ولس قوت ترلاسه کیږي.

**Hamidullah Misbah**

یو ځل بیا هم یادونه کوو، چې د هیواد سړکونه د ټولو هیوادوالو گډه شتمني او ساتنه یې د ټولو گډ مسؤلیت دی. راځئ په ټولو په همکارۍ دا شتمني وساتو او یو ځل بیا وایو هیچا ته په هیڅ صورت د درانه وزن اجازه نه ورکوو....

**اسامه جوهري**

د یو هیواد د پرمختگ لپاره اقتصاد تر ټولو مهم وي. په تېرو شلو کلونو کې چې امریکا په کومو هیوادونو کې جمهوریتونه راوستي داخلي بدامنۍ یې جوړې کړې او همدا بد امنۍ د اقتصادي بحران سبب سوی. معنا دا چې د ۲۱ پیړۍ جمهوریتونو هیوادونو ته پرمختگ نه دی ورکړی بلکه داخلي بدامنۍ یې ورکړي.

**ذبیح الله مجاهد**

نن مو په بلخ کې د قوشتیپې کانال له کارونو او جریان څخه لیدنه وکړه.
ـــ په تیرو اتو میاشتو کې د لومړي فاز ۱۰۸ کیلو مترو په ۱۱۴ نقطو کې کارونه روان دي چې اکثره بشپړ شوي.
ـ ټولټال ۳۲۰۰ ماشینرۍ په کې مصروفه ده.
ـــ ۵۵۰۰ افغانانوته په کې مخامخ او زرگونو نوروته غیرمستقیم کار پیدا شوی.

**Qazi Obaid**

همشریان کابل نفس تازه میگیرند با دیدن بازسازی و نو سازی شهر و اینکه در هر کوچه و پسکوچه کار جریان دارد و با گذشت هر روز چهره شهر تغییر میکند، انسان قلباً خوش شده با خود میبالد. جا دارد که از مسؤلین شهرداری کابل، تیم تخنیکی و فرد فرد شان که در جاده های شهر مصروف هستند تشکری شود..